خپل د قیصو کتاب جوړ کړئ (دریمه درجه)

| | |
|---|---|
| توضیح | زده کوونکي به خپل د کیسو کتاب طرح (ډیزاین) کړي او یا به هم کوچنۍ کیسې په انځوریز شکل تشریح کړي او همدا دارز، دوی به د ژبې د اجزاوو په اړه پوهاوی ترلاسه کړي. |
| مخکبنه پوښتنه | آیا تاسو کولی شئ خپل د کیسې قهرمان ډیزاین (طرح) کړئ؟ |
| ټولټال وخت ته اړتیا | په ۳ ورځو کې ټولټال ۳ ساعته |
| د اړتیا وړ سرچینې | ورقه او یا هم کتابچه، قلم او یا پنسل، او یا هم رنګه پنسلونه (اختیاري) |
| د زده کړو پایلې | 1. سواد زده کړه: لوستل او لیکل<br>2. ژبدود: د ژبې اجزاء – اسم، صفت، فعلونه<br>3. ریاضیات: ویش (تقسیم) او ۲ بعدي شکلونه |
| مخکینې زده کړې | • د انګلیسي ژبې لیکل او لوستل او ژبدود<br>• ریاضي: لومړنۍ عملیې (د دوهمې درجې) |

لومړۍ ورځ


نن ورځ به تاسو د خپل د قیصو کتاب د جوړولو په اړه زده کړې وکړئ.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۱۰ دقیقې | • زده کوونکي به خپل د قیصو کتاب ډیزاین کړي او یا به هم یوه کوچنۍ کیسه په انځوریز شکل سره تشریح کړي.<br>• یو د قیصو کتاب او یا هم یوه لنډه کیسه موږ ته د یوه کرکټر او یا هم د څو کرکټرونو د ګروپ په اړه په ډایلوګ او یا هم انځوریز شکل کیسه بیانوي. لومړۍ راځئ د هغه څه په اړه فکر وکړو چې موږ سره کومک کوي ترڅو دا فعالیت بشپړ کړو:<br>    ○ **کرکټرونه:** ستاسو د کیسې اصلي کرکټرونه او یا هم قهرمانان/اتلان څوک دي؟ تاسو کولی شئ خپل یو سوپر هیرو (قهرمان/اتل) جوړ کړئ ترڅو ستاسو د کیسې د اصلي کرکټر په توګه وکارولی شي. د هغو خارق العاده پیاوړتیاو په اړه فکر وکړئ چې ستاسو قهرمان/اتل یې باید ولري. هغوی کومو موضوعاتو او یا هم علتونو ته اهمیت ورکوي؟ دا شیان ممکن هغه موضوعات واوسي چې ستاسو په هیواد او یا هم په نړۍ کې د اوس مهال لپاره جریان ولري. |

| | |
|---|---|
| ○ **داستان:** ستاسو په کیسه کې په کرکټرونو باندې څه کیږي؟ کیسه څنګه پیل کیږي او څنګه پای ته رسیږي؟ | |

- ○ **پیغام:** مورږ غواړو کوم پیغام لوستونکي ته ورسوو؟ د بیلګې په توګه: مهرباني، پاکوالی، د چاپیریال په اړه پاملرنه او داسې نور. دداسې یوې موضوع په اړه فکر وکړئ چې تاسو ته مهمه ده.
- ○ **انځوریزه تشریح:** تاسو څنګه کولی شی خپله کیسه او د کیسې کرکټرونه په انځوریز شکل سره تشریح کړی؟ یو د کیسو کتاب په انځوریزو چوکاټونو کې تشریح شوی وي. (تاسو کولی شی د بیلګې لپاره لومړی ضمیمه وګوری). ددې په اړه فکر وکړئ چې تاسو به خپل انتخاب شوی اتل یا اتله څنګه ډیزان (طرح) کوی. ستاسو د کیسې اتل/اتله به کوم خارق العاده پیاوړتیاوې ولري؟

| | |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | • زده کوونکي به یو څه وخت د خپلې کیسې د اصلي کرکټر په ډیزان کولو او یا هم طرح کولو باندې تېر کړي. زده کوونکي باید د خپل اصلي کرکټر د تشریح کولو لپاره ساده لغاتونه او جملې وکاروي. همدا راز، زده کوونکي کولی شي خپل ځان د کیسې د اتل یا اتلې په توګه وکاروي او یا هم کوم بل واقعي او یا هم تخیلي کرکټر د ځارویو په ګډون انتخاب کړي. زده کوونکي کولی شي لاندې چوکاټ څخه د خپل اتل یا اتلې د ډیزاین کولو لپاره کار واخلي او یا هم کولی شي خپل اتل د ځینو نورو ځانګړنو سره په خپله انتخاب کړي. او یا هم دوی کولی شي خپل اتل د نیمه انسان او نیمه حیوان په څیر غوره کړي ترڅو د دوی د کیسې اتل په بشپړه توګه فرق ولري. |




Source: [https://inclusiveschools.org/champions-of-inclusion-isw-minilessons/](https://inclusiveschools.org/champions-of-inclusion-isw-minilessons/)

| | |
|---|---|
| ۱۰ دقیقې | زده کوونکي به خپل د کیسو جوړ شوی انځوریز کتاب د خپلې کورنۍ غړو او مورو او پلار ته وښايي ترڅو هغوی ورته خپل نظرونه او وړاندیزونه د کیسې د لا ښه والي لپاره ورکړي. له دې څخه وروسته به زده کوونکي ورکړل شوي نظریات او وړاندیزونه به خپل نوي ډیزاین کې اضافه کړي. |

نن ورځ به تاسو د کيسې جوړول زده کړئ.

| وړانديز شوی وت | فعاليت او توضيحات |
|---|---|
| ۱۵ – ۲۰ دقيقې | نن ورځ به زده کوونکي زده کړي چې يوه کيسه څنګه جوړيږي او د ژبې بيلابيلې برخې کومې دي. لومړی زده کوونکي کولی شي د خپل انګليسي کتابونو، اخبار او يا هم مجلې او يا داسې نورو کيسو او يا انځوريزو لنډو ټوکو په اړه مالومات ترلاسه کړي. دوی همدا راز کولی شي لومړی ضميمې ته رجوع وکړي چې د (ګالډيلاکس او خرسونو) په اړه ده. له دې څخه وروسته به زده کوونکي انځوريزه کيسه ولولي. |
| ۳۰ دقيقې | زده کوونکي به د هغې کيسې په اړه چې همدا اوس يې ولوستله فکر وکړي او لاندې نقطې به په خپلو کتابچو او يا هم يوه ورقه کې وليکي:<br>د لومړي کرکټر نوم:<br>د دوهم کرکټر نوم:<br>د دريم کرکټر نوم:<br>د نورو کرکټرونو نومونه:<br>اصلي کرکټر:<br>د کيسې داستان:<br>○ دا کيسه څنګه پيل شوه؟<br>○ لومړنۍ صحنه يې تشريح کړئ؟<br>○ کرکټرونو ته څه پيښيږي؟<br>○ کوم شي تاسو ډير په تعجب کې واچولئ؟<br>○ دا کيسه څنګه پای ته ورسيده؟<br>○ د کيسې پيغام: |
| ۲۰ دقيقې | • د ژبې اجزاوې: زده کوونکي به د ژبې ټول ۸ اجزاوې په خپله کيسه کې وکاروي – فعلونه، قيدونه، صفتونه، اسمونه، ضميرونه، د ندا توري، د ربط توري او د اضافة توري.<br>○ **اسمونه (نومونه)** هغه کلمې دي چې د خلکو، ځايونو او يا شيانو د نومولو لپاره کارول کيږي. د بيلګې په توګه: محمد، فرانسه، بوټان او داسې نور.<br>○ **ضميرونه** هغه کلمې دي چې د يوه نوم (اسم) پر ځای کارول کيږي. د بيلګې په توګه: هغه، هغوی، مونږ، دا، دوی او داسې نور.<br>○ **صفتونه** هغه کلمې دي چې د نومونو د تشريح کولو لپاره کارول کيږي. د بيلګې په توګه: ښه، سور، خوږ، اوچت، آسماني او داسې نور.<br>○ **فعلونه** هغه کلمات دي چې عملونه او يا هم فعاليتونه څرګندوي. د بيلګې په توګه: خوړل، ويده کيدل، قدم وهل، منډه وهل، خوښول، مينه درلودل او داسې نور. |

- **قیدونه** هغه کلمات دي چې یو فعل او یا هم یو صفت او یا هم کوم بل قید تشریح کوي. د بیلګې په توګه: په ګړندۍ توګه، په آرامۍ سره، په ښه ډول سره، او داسې نور.
- **د اضافة توري** معمولا د یوه اسم او یا هم ضمیر څخه دمخه کارول کیږي او د هغوی رابطه په جمله کې له نورو کلمو سره څرګندوي. د بیلګې په توګه: پورته، لاندې، هاخوا، په، له او داسې نور.
- **د ربط توري** هغه کلمات دي چې د جملې دوه برخې سره یوځای کوي او یا هم دوه کلمې سره نښلوي. د بیلګې په توګه: مګر، او، که او داسې نور.
- **د ندا توري** هغه کلمات دي چې د احساساتو د څرنګوالي لپاره کارول کیږي. د بیلګې په توګه: واو، اووپس، وی زما خدایه! هورره او داسې نور.

- څلورمې ضمیمې ته رجوع وکړئ. له زده کوونکو څخه وغواړئ چې په لیکل شوو جملو کې اسمونه، فعلونه، صفتونه، ضمیرونه، قیدونه، د اضافة توري، د ربط توري او د نداء توري معلوم کړي.
- د دوی د معلومولو لپاره یو له یوه چوکاټ څخه کار واخلئ.
  1. ادم د دوکان په لور منډه کړه.
  2. هغه د خپلې خوښې د لوبو توکي له دکان څخه وپېره.
  3. جاپان یو ښکلی هیواد دی.
  4. زما د پیشکې ډیر خوښیږي چې د خپلو لوبو له توکو سره لوبې وکړي.
  5. واو، نن ورځ موسم ډیر ښکلی دی.
  6. زه غواړم چې خپل نوی کتاب چې اوس مې پیرلی دی ولولم، مګر هغه نشم پیدا کولی!
  7. زما ډیر خوښیږي چې د فوټبال لوبه وکړم او دا مې هم خوښیږي چې وګورم چې زما د خوښې ټیم لوبه وکړي!
  8. کریسټیانو رونالډو زما د خوښې لوبغاړی دی. هغه د ریال مادرید د فوټبال کلب لپاره لوبیږي.

| د نداء توري | د ربط توري | د اضافة توري | قیدونه | ضمیرونه | صفتونه | فعلونه | اسمونه (نومونه) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | |
| | | | | | | | |
| | | | | | | | |

- د کیسې لپاره د ارزونې معیارونه:

- دا کتاب باید لږ تر لږه ۵ ورقې ولري. د کیسې چوکاټ کولی شي په هر اندازه وي خو شکلونه یې باید هندسوي شکلونه واوسي (لکه، مستطیل شکل، مربع شکل، مثلث او داسې نور.)
- زده کوونکي باید داسې یوه کیسه جوړه کړي چې پیل، پای او یو پیغام ولري.
- زده کوونکي باید په خپله کیسه کې د ژبې د ۸ اجزاو څخه لږ تر لږه هر یو یې ۳ ځله وکاروي.
- زده کوونکي باید په پای کې کیسه ووایي.
- کله چې زده کوونکي کیسه وایي هغوی باید په صفتونو، فعلونو، قیدونو او د ربط په کلمو باندې تأکید وکړي.
- زده کوونکي باید د صفات کلمې په آسماني رنګ، فعلونه په سور رنګ، قیدونه په زرغون رنګ، او د نداء کلمات په نارنجي رنګ په خپل د کیسو په کتاب کې ولیکي.

دریمه ورځ

نن ورځ به تاسو د خپل د کیسو د کتاب داستان جوړ کړئ.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
| --- | --- |
| ۲۰ – ۳۰ دقیقې | • زده کوونکي کولی شي د داسې یوې نظریې او پیغام په اړه فکر کول پیل کړي چې دوی یې غواړي لوستونکو ته یې ورسوي. دا کیسه کیدای شي د داسې یوې تجربې په اړه وي چې دوی تجربه کړې وي، یا ممکن داسې یوه کیسه وي چې په بشپړه توګه تخیل پکې کارول شوی وي، او یا هم د هغه اتل/اتلې په اړه وي چې دوی په لومړۍ ورځ کې جوړ کړی وه. زده کوونکي په همدا ډول کولی شي خپل ځان د کیسې د اتل په توګه وکاروي او یا هم یو واقعي او یا هم یو تخیلي کرکټر د حیواناتو په شمول وکاروي. |
| | • زده کوونکي به کیسه د ساده جملو په کارولو سره ولیکي. |
| ۱۰ – ۲۰ دقیقې | • د ریاضي د توسعې فعالیتونه:<br>که چیرته تاسو خپل انځوریز د کیسو کتاب په ۵ ورقو کې د ۵ چوکاټونو، او ۳ چوکاټونه په دوه صفحو کې جوړ کړی، تاسو به څو داني چوکاټونه په مجموع کې ولرئ؟ خپل فعالیت د ضرب د عملیې په کارولو سره څرګنده کړئ. |
| | - د ویش (تقسیم) په کارولو سره دا معلومه کړئ چې تاسو به هره صفحه کې څو داني چوکاټونه به ولرئ که چیرته تاسو ټولټال ۶۰ چوکاټونه په ۱۵ ورقو کې ولرئ. |

| | |
|---|---|
| ١٠ دقيقې | • زده کوونکی به خپل د کیسو جوړ شوی انځوریز کتاب د خپلې کورنۍ غړو او مورو او پلار ته وښايي ترڅو هغوی ورته خپل نظرونه او وړانديزونه د کيسې د لا ښه والي لپاره ورکړي. له دې څخه وروسته به زده کوونکي ورکړل شوي نظريات او وړانديزونه به خپل نوي ډيزاين کې اضافه کړي. |

خلورمه ورځ

تاسو به نن د هغه چوکاټ په کارولو سره چې په ۳ ضميمه کې موجود دی خپل د کیسو انځوریز کتاب ډيزاين کړی او يا به هم خپل يو چوکاټ ورته جوړ کړی.

**ورانديز شوی وخت** فعاليت او توضيحات

۳۰ – ۶۰ دقيقې

- چوکاټونه ممکن په هره اندازې سره واوسي، خو شکلوه يې بايد هندسوي واوسي (لکه، مستطيل، ذوزنقه، متوازی الضلاع، مثلث، او يا هم دايروي شکل). تاسو بايد کوښښ وکړی چې نووښت ګره واوسی.
- زده کوونکي به د پيل چوکاټ د ۱ په نامه ونوموي او راتلونکي نور چوکاټونه به د نورو شميرو سره ونوموي.
- په هر چوکاټ کې بايد زده کوونکی دادې ترلاسه کړي چې لاندې نقطې يې پکې ځای پرځای کړي وي:

- د انځور توضيحي کلمات. تاسو کولی شی دا د چوکاټ په پورته برخه او يا هم لاندې برخه کې ځای پرځای کړی.
- د کرکټرونو تر منځ ډايلوګ (خبرې اترې) او يا هم د يوه کرکټر له خپل ځانه سره خبرې

پوکانۍ ته ورته شکلونه. لکه:



د کرکټر او يا هم د صحنې انځوريزه تشريح

د غږ تأثيرات که چيرته ممکن وي

**د رياضي د توسي فعاليتونه:**

له دې څخه وروسته چې تاسو د خپلو چوکاټونو رسامۍ بشپړې کړی، د چوکاټونو څلور اړخونه محاسبه کړئ. همدا راز، د شکلونو ځايونه محاسبه کړئ. د فارمولو لپاره ۵ ضميمې ته رجوع وکړئ.

| | |
|---|---|
| ١٠ دقيقې | • زده کوونکی به خپل د کیسو جوړ شوی انځوریز کتاب د خپلې کورنۍ غړو او مورو او پلار ته وښايي ترڅو هغوی ورته خپل نظرونه او وړانديزونه د کيسې د لا ښه والي لپاره ورکړي. له دې څخه وروسته به زده کوونکي ورکړل شوي نظريات او وړانديزونه به خپل نوي ډيزاين کې اضافه کړي. |

## پینځمه ورځ

نن ورځ به تاسو خپل انځوریز د کیسو کتاب خپلې کورنۍ ته وړاندې کړئ.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۱۰ – ۱۵ قیقې | زده کوونکی به خپل انځوریز د کیسو کتاب خپلې کورنۍ ته وړاندې کړي او د خپلې د کورنۍ غړو ته به کیسه واوروي. باید ډاډ ترلاسه کړئ چې د کیسې ویلو په وخت کې هغوی باید د صفت په کلمو او فعلونو باندې تأکید وکړي. همدا راز، هغوی باید د کیسې د لوستلو او یا هم ویلو په وخت کې خپل غږ لوړ او یا هم ټیټ کړي. |
| ۱۰ – ۱۵ دقیقې | زده کوونکي به د خپلې کورنۍ له غړو او یا هم له والدینو څخه نظرونه او وړاندیزونه واخلي او بیا به هغه په هر ځای کې چې ممکن وي په خپل هنري فعالیت کې ځای پرځای کړي. |
| ۱۰ دقیقې | زده کوونکي به اوس د هغه تمرین په اړه فکر وکړي چې دوی ددغې اونۍ په اوږدو کې ترسره کړی دی او د لاندې نقطو څخه یواځې د دوه نقطو په اړه به لیکنه وکړي او نوټ به واخلي:<br>• ددې پروژې په ترسره کولو کې کوم ډیر اړین درس تاسو زده کړ؟<br>• کوم شیان ډیر ستونزمن، حیرانونکي او یا هم سخت ول؟<br>• د کومې پوښتنې په اړه غواړئ ډیر بحث وکړئ؟<br>• کوم شی تاسو ته ډیر په زړه پورې وه؟ |

## د ارزونې معیارونه

1. یو بشپړ د کیسو انځوریز کتاب او یا هم انځوریزه لنډه کیسه چې لاندې معیارونه ولري:
   - ل ترلږه ۵ صفحې د چوکاټونو سره ولري او شکلونه يې هندسوي وي.
   - کیسه باید پیل، پای او یو پیغام ولري.
   - د ژبې د اجزاؤ د هر یو څخه لږ تر لږه ۳ ځلې په کیسه کې کارول
   - د کیسې په ویلو کې باید فعلونه، قیدونه، او د نداء کلمات په تأکید سره وویل شي.
   - د کیسو په انځوریز کتاب کې د صفات کلمات باید په آسماني رنګ، فعلونه په سور رنګ، قیدونه په زرغون رنګ او د نداء توري باید په نارنجي رنګ سره لیکل شوي وي.
2. زده کوونکی باید خپله کیسه په پای کې ووايي.

## د غني کوولو اضافي فعالیتونه

- زده کوونکي کولی شي د کیسې په داستان کې ناڅاپي تغیرات هم راولي ترڅو کیسه لا په زړه پورې کړي.
- همدا رزا، له زده کوونکو څخه غوښتلی شي چې د ۲ بعدي شکلونو ساحه محاسبه کړي.


ګالډیلاکس او خرسونه
په پخوا زمانه کې یوه انجلۍ وه. د هغې نم ګالډیلاکس وه. هغې طلایي ویښتان درلودل
یوه ورځ ګالډیلاکس په یوه ځنګله کې ګرځیدله. هغې یو کور ولیده او د کور دروازه یې وټکوله. هغه د کور دننه ولاړه. په کور کې هیڅوک هم نه وه.
ګالډیلاکس په یوه میز باندې ۳ کاسې ولیدلې. هغه ډیره وږې وه.
ګالډیلاکس په یوه میز باندې ۳ کاسې ولیدلې. هغه ډیره وږې وه.
هغې وویل: دا فیرنې خو ډیره ګرمه ده. او دا فیرني ډیره سړه ده. خو بیا دا فیرني بیلکل سمه ده.
ګالډیلاک ټوله فیرني وخوړله




Source: https://www.kidsgen.com/comics/goldilocks-and-the-bears.htm


## دوهمه ضمیمه




Source : https://www.thinglink.com/scene/838142613948203010

دريمه ضميمه

Source : https://picklebums.com/images/printables/picklebums_comicpages_big.pdf



٣

٤

خلورمه ضمیمه:

| د ژبې ۸ اجزاوې | |
|---|---|
| فعل: | فعل یو عمل یا حالت څرګندوي.<br>بیلګې: منډه وهل، غوړ نیول، ژوند کول |
| د ندا توري: | د ندا توري پیاوړي احساسات او یا هم عکس العمل څرګندوي.<br>بیلګې: اوه!، همدلته تم شه!، اخخ! |
| ضمیرونه: | ضمیرونه د یو اسم پرځای کارول کیږي.<br>بیلګې: زه، ته، هغه، هغوی، دوی، موږ |
| اسم: | د یو شخص، ځای، شي او یا نظریې نومونه.<br>بیلګې: جوډي، ښار، بکس، باور، طمع، پلار |
| صفت: | یو اسم یا ضمیر تشریح کوي.<br>بیلګې: ستړ، ګرم، خوشحاله، یو، سور |
| قید: | یو فعل، یو صفت، او یا هم یو بل قید تشریح کوي.<br>بیلګې: په ګړندۍ سره، نن، ډیر او داسې نور |
| د ربط توري: | کلمې، عبارتونه او نظریې سره نښلوي.<br>بیلګې: مګر، او، ځکه چې، نو له همدې امله |
| د اضافة توري: | د یو اسم یا ضمیر رابطه له نورو کلمو سره ښیي.<br>بیلګې: په، له، سره، پورته، په اړه |

Source: https://www.onlinemathlearning.com/parts-of-speech-2.html